بسم الله الرحمن الرحيم

# له حدیث شریف سره

# د تفویض وزیران

# (ژباړه)

ترمذي په خپل سنن کې داسې روایت کړی دی:

**«عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَا مِنْ نَبِيٍّ إِلَّا لَهُ وَزِيرَانِ مِنْ أَهْلِ السَّمَاءِ وَوَزِيرَانِ مِنْ أَهْلِ الْأَرْضِ فَأَمَّا وَزِيرَايَ مِنْ أَهْلِ السَّمَاءِ فَجِبْرِيلُ وَمِيكَائِيلُ وَأَمَّا وَزِيرَايَ مِنْ أَهْلِ الْأَرْضِ فَأَبُو بَكْرٍ وَعُمَرُ.»**

***ژباړه:*** *هېڅ داسې نبي نشته چې دوه وزیران دې په آسمان او دوه په ځمکه کې ونه لري، پر همدې اساس جبریل او میکائیل په اسمان کې زما وزیران دي او ابوبکر او عمر مې په ځمکه کې وزیران دي.*

په تحفة الاحوذي کې په دې اړه راغلي دي:

دا خبره: «**مَا مِنْ نَبِيٍّ إِلَّا وَلَهُ وَزِيرَانِ مِنْ أَهْلِ السَّمَاءِ وَوَزِيرَانِ مِنْ أَهْلِ الْأَرْضِ**» وزیر، همکار (بار وړونکی) دی، په دې دلیل چې هغه وزر یا بار له خپل امیر څخه اخلي. معنی یې دا ده چې کله به پیغمبر صلی الله علیه وسلم کوم کار پیل کاوه، نو له خپلو دوو وزیرانو سره به یې مشوره کوله. لکه څنګه چې یو حاکم له ستونزې سره مخ شي، نو له خپلو وزیرانو سره مشوره کوي. په دې اړه الله سبحانه وتعالی فرمايي:

**وَاجْعَل لِّي وَزِيراً مِّنْ أَهْلِي(٢٩) هَارُونَ أَخِي(٣٠) اشْدُدْ بِهِ أَزْرِي(٣١)** [طه: ٢٩-٣١]

***ژباړه:*** *له کورنۍ څخه مې ورور هارون زما مرستیال کړه او د هغه په مرسته زما ملا پیاوړې کړه.*

په النهایه کتاب کې بیان شوي، چې وزیر له هغه کس څخه عبارت دی چې له امیر سره مرسته کوي او د هغه ځینې درانه کارونه مخته وړي او یا هغه څوک دی چې امیر د هغه رایې او تدبیر ته ارزښت ورکوي.

د وزیر کلمه د همکار او مرستیال په معنی ده او قرآن کریم هم د وزیر کلمه په همدې لغوي معنی راوړې ده. الله سبحانه وتعالی فرمایلي دي: (وَاجْعَل لِّي وَزِيراً مِّنْ أَهْلِي) دلته وزیر د همکار او مرستیال په معنی راغلی دی.

په دغه حديث کې دا کلمه په خپله لغوي معنا يعنې همکار يا مرستيال او همدارنګه په مطلق ډول راغلې ده، چې په ټولو چارو کې هر ډول مرسته او همکاري پکې شاملېږي، لکه د خلافت په مسووليت او نورو چارو کې له خليفه سره مرسته کول. حزب التحرير له دغه حديث څخه لاندې احکام اخيستي دي:

١ـ خليفه حق لري چې د ځان لپاره مرستيالان وټاکي، ترڅو د خلافت د کارونو او دندو په ترسره کولو کې ورسره مرسته وکړي.

٢ـ د مرستيالانو د شمېر جواز؛ يعنې خليفه کولی شي، چې له خپلې اړتيا سره سم يو يا څو مرستيالان وټاکي.

٣ـ خليفه حق لري چې د ځان لپاره د حکم په برخه کې او پرته د حکم له برخې (اداري برخه) کې مرستيالان وټاکي. لکه څنګه چې په آسمان کې د رسول الله صلی الله عليه وسلم همکاران د حکم د برخې مرستيالان نه وو او ابوبکر او عمر رضي الله عنهما د هغه صلی الله عليه وسلم د حکم په برخه کې مرستيالان وو، له دې څخه څرګندېږي چې خليفه حق لري، چې د ځان لپاره په حکومتي او غيرحکومتي برخه کې مرستيالان وټاکي.

د حکم په برخه کې د خليفه مرستيالانو ته د تفويض مرستيالان هم ويل کېږي.

**د تفويض مرستيالان:**

1- له هغو وزيرانو څخه عبارت دي چې خليفه يې ټاکي، ترڅو د خلافت د ستونزو د حل او د مسووليتونو د ترسره کولو په برخه کې مرسته ورسره وکړي؛ په ځانګړې توګه کله چې خلافت دولت لوی او پراخ شي، ځکه هغه مهال يې مسووليت يوازې د خليفه لپاره ډېرېږي او خليفه داسې کسانو ته اړتيا لري چې د خلافت د ستونزو په حل او د مسووليتونو په ترسره کولو کې له هغه سره مرسته وکړي.
2- د وزير کلمه بايد له قيد و شرط پرته پر هغوی اطلاق نشي، ترڅو په اسلام کې د وزير مدلول او په هغو وضعي نظامونو کې د وزير مدلول سره ګډ نه شي، چې د ډيموکراسۍ او سېکولرېزم پر اساس رامنځته شوي دي.
3- د تفويض مرستيال شرطونه هغه دي، چې د خليفه لپاره هم په پام کې نيول شوي دي. يعنې دا چې: نارينه، مسلمان، ازاد، بالغ، عاقل، عادل او توانا وي او هغه کارونه بايد ترسره کړای شي، چې ورسپارل کېږي. دا شرطونه د دې لپاره دي، چې د تفويض مرستيال کار د حکم چاره او نوموړی په حکم کې د خليفه ممثل دی؛ پر همدې اساس هغه شرطونه بايد ولري چې موجوديت يې د خليفه لپاره هم اړين دی.
4- خليفه د دې ترڅنګ چې ټول کارونه تر څارنې لاندې لري، د تفويض مرستيال ته د خپل نيابت له مخې د دولت په ټولو برخو کې صلاحيت ورکوي، سربېره پر دې خليفه کولی شي چې هغه پر يوه مشخص کار مکلف کړي؛ لکه رسول

الله صلی الله علیه وسلم چې حضرت ابوبکر ر ضي الله عنه د حج په چارو او حضرت عمر رضي الله عنه يې د صدقې په چارو کې ګومارلی و، په داسې حال کې چې هغه دواړه په مطلق ډول د تفويض وزيران وو. له همدې امله مقيد کول روا دي، داسې چې لاندې چارې پر غاړه واخلي:

أ- د صلاحيت له مخې: د دولت ټولې برخې تر ځار لاندې نيولی شي او له خليفه څخه نيابت پر غاړه اخيستی شي.

ب- د کار له اړخه: مرستيال د دولت په يوه برخه کې په کار ګومارل کېدلی شي، داسې چې ولايتونه د دوو مرستيالانو تر منځ وويشل شي؛ د بېلګې په توګه د خليفه لپاره کولی شي، چې يو مرستيال په ختيځ، بل په لويديځ، يو په شمال او بل په جنوب کې د هغه په څېر کار وکړي.

ت- د لېږد له مخې: يو مرستيال له يوه ځای څخه بل ځای ته او له يوه کار څخه بل کار ته لېږل کېدای شي، پرته له دې چې له سره وټاکل شي، بلکې همغه لومړی ټاکنه بسنه کوي، ځکه د ټاکنې اصل دا دی چې ټول کارونه پکې شامليږي.

5- د تفويض مرستيال په هغو کارونو کې د خليفه ټول صلاحيتونه لري، چې نوموړی پرې مکلف دی؛ يعنې هغه ته روا دي چې پخپله حکم وکړي او يا حکام وټاکي، د مظالمو قضيې وارزوي او يا يې د ارزولو لپاره استازی وټاکي، د جهاد مسووليت پر غاړه واخلي او يا يو کس وټاکي چې د جهاد چارې مخته يوسي، کومې چارې يې چې تدبير کړي د هغو تنفيذ په مستقيم ډول د ځاري او ويې ارزوي او يا يې د ځار او ارزونې لپاره بل کس وګوماري.

6- د تفويض مرستيال د اداري برخې په يوه اداره کې نه ټاکل کېږي، مثلاً په ځانګړې توګه د پوهنې په اداره کې؛ ځکه هغه کسان چې په مستقيم ډول اداري چارې مخته بيايي، هغوی کارکوونکي دي، نه حکام؛ په داسې حال کې چې د تفويض مرستيال حاکم دی، نه کارمند؛ د هغه کار د چارو رعايت دی، نه د هغو چارو ترسره کول، چې کارمندان ورته ټاکل کېږي. په ورته وخت کې نوموړی له اداري کار څخه منعه شوی هم نه دی او نه هم اداري کارونو ته ځانګړی کېږي، ځکه اصلي دنده يې د چارو سمبالښت دی.

7- د تفويض مرستيال ته لازمه ده چې له خليفه سره هغه تدبيرونه شريک کړي، چې په اړه يې تصميم نيسي، وروسته دې هغه تدبيرونه چې په اړه يې پرېکړه کړې او هغه ټاکنې وارزوي، چې د واليانو او يا هم په نورو برخو کې دي، ترڅو په صلاحيتونو کې يې له خليفه سره توپير وشي. نو پر هغه لازمه ده چې د خليفه ارزونه په پام کې ونيسي او عملي يې کړي؛ په دې شرط چې خليفه د همغه حکم د تنفيذ اجازه ورکړې وي. په دې توګه د مرستيال واقعيت دا دی، چې نوموړی په هغو کارونو کې د خليفه نائب ګڼل کېږي، چې پرې مکلف شوی دی.

8- پر خليفه لازمه ده چې د تفويض مرستيال کارونه او تدبيرونه وارزوي، ترڅو سمې چارې يې تاييد او تېروتنې يې اصلاح کړي او دا کار د لاندې دلايلو پر اساس ترسره کېږي:

أ- د امت د چارو تدبیر د خلیفه پر غاړه دی او د نوموړي په اجتهاد پورې تړلی دی. په دې اړه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي:

**«الإمام راع وهو مسؤول عن رعيته.»**

***ژباړه:*** *امام شپون (څارونکی او سمبالوونکی) دی او د خپل رعیت مسوول دی.*

ب- د تفویض مرستیال ښایي تېروتنه وکړي، د هغه تېروتنه باید اصلاح شي. پر همدې اساس پر خلیفه لازمه ده چې د مرستیال ټول کارونه په لاندې ډول وارزوي:

- ❖ کله چې د تفویض مرستیال د یو کار په اړه تدبیر او پلان جوړ کړ او وروسته خلیفه تایید کړ، نو پر مرستیال لازمه ده چې د خلیفه له تایید سره سم یې تنفیذ کړي او هېڅ کمی او زیاتی پکې رانه ولي.
- ❖ کله چې خلیفه د مرستیال حکم ونه مني، له هغه سره مخالفت وکړي او هر هغه څه رد کړي چې نوموړي تایید کړي وو، نو باید وکتل شي چې:

- که چېرې د هغه حکم په اړه وي، چې هغه مرستیال په سمه توگه تنفیذ کړی وي او یا د هغه مال په اړه وي چې په سم ځای کې یې لگولی وي؛ نو د تنفیذ د مرستیال رایه منل کېږي؛ ځکه د هغه رایه په اصل کې د خلیفه رایه ده او خلیفه ته روا نه ده چې هغه احکام چې تنفیذ شوي او هغه مال چې مصرف شوی دی، تصحیح کړي.
- که چېرې مرستیال د هغه څه په اړه پرېکړه کړې وه، چې په پورتنیو مواردو کې نه شاملېدل؛ لکه د والي ټاکل یا د لښکر تجهیزول، نو په داسې حالت کې خلیفه ورسره مخالفت کولی شي او د مرستیال د رایې پر ځای د خلیفه نظر منل کېږي؛ ځکه دا کار که د خلیفه لخوا هم شوی وي (تېروتنه شوې وي) هغه هم تصحیح کولی شي؛ پر همدې اساس په دې برخه کې د تفویض د مرستیال عمل هم اصلاح کولی شي.

9- د تفویض د مرستیالانو ټاکل او گوښه کول:

الف: مرستیال د خلیفه په امر ټاکل او گوښه کېږي.

ب: د تفویض د مرستیالانو ولایت د خلیفه له وفات سره سم پای ته رسېږي او خپل کار ته یوازې د لنډمهاله امیر تر وخت پورې دوام ورکولی شي.

ج: د تفویض مرستیالان گوښه کولو ته اړتیا نه لري، ځکه ولایت یې د حکم له مخې د خلیفه له وفات سره سم چې دوی یې د خپلو مرستیالانو په توگه ټاکلي، پای ته رسېږي.

د: کله چې نوی خلیفه وغواړي چې دوی د خپلو تفویضي مرستیالانو په توگه وټاکي، نو دوی د نوي خلیفه لخوا نوې ټاکنې ته اړتیا لري.

د تفويض مرستيالان د دولت د لومړي جهاز يعنې خليفه څخه وروسته د دولت دويم جهاز ګڼل کېږي.

**ژباړن: صهيب منصور**